

حقایق او شمېرې

# د بیارغونې او ټولنیزې ګډونتیا په لور

## په افغانستان کې د سره صلیب د فزیکي بیارغونې پروګرام

ICRC

# پېژندنه

آی سي آر سي له ۱۹۸۸ز کال راهیسې په افغانستان کې معلولیت لرونکو وګړیو ته د فزیکي او ټولنیزې بیارغونې په برخه کې خدمات وړاندې کوي. د لسیزو اوږدې وسله والې جګړې او محدود روغتیایي زیربناوو په پېژندنې سره، آی سي آر سي د معلولیت لرونکو وګړیو د ملاتړ لپاره یو جامع او هراړخیز پروګرام رامنځته کړ. د فزیکي بیارغونې دا پروګرام د فیض آباد، هرات، جلال آباد، کابل، لشکرگاه او مزار شریف د ۷ فزیکي بیارغونې مرکزونو له لارې پرمخ وړل کېږي.

## د فزیکي بیارغونې پروګرام


هر کال، د سره صلیب نړیواله کمېټه په افغانستان کې د خپل فزیکي بیارغونې پروګرام له لارې له ۲۰۰،۰۰۰ څخه زیاتو معلولیت لرونکو وګړو سره مرسته کوي. دا څو اړخیز پروګرام د مرستې یوه پراخه لړۍ لري، چې موخه یې نه یوازې د فزیکي تحرک بیا رغونه ده، بلکې د ټولنیز او اقتصادي شمولیت وده هم ده، او تر څنګ یې په ټولنه کې د معلولیت لرونکو خلکو فعاله ونډه هڅول هم دي.

دا پروګرام د فزیکي بیارغونې خدمات وړاندې کوي د بېلګې په ډول د بدن د مصنوعي غړیو (لاس او پښې) نصبول، د فزیوتراپي شخصي ناستې، او د ناروغانو د صحت د پرمختګ څارنه او د هغوی د پاملرنې څخه د ډاډمنېدا په موخه له کورونو څخه منظمې لېدنې ترسره کول. د فزیکي بیارغونې ملاتړ سربېره، د سره صلیب نړیواله کمېټه ژمنه ده چې د زده کړې، مسلکي روزنې، د کوچنیو پورونو فرصتونو، او د کاري فرصتونو په خبر برخو کې د مناسبې مرستې وړاندې کولو سره د معلولیت لرونکو وګړو اوږدمهاله خپلواکي او ټولنیز شمولیت وهڅوي. له دې علاوه، دا پروګرام په سپورت او تفریحي فعالیتونو کې د معلولیت لرونکو وګړیو د ګډون پهوسیله د هغوی ځواکمنتیا، باور جوړونه، او ټولنیزې اړیکې لا پیاوړوي.

### جنوري - ډسمبر ۲۰۲۴

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۱۵،۲۷۴<br>ناروغانو سره مرسته شوې ده | ۱۱،۰۵۵<br>کورونو څخه لیدنې شوې دي | ۴،۲۵۳<br>مصنوعي پښې تولید شوې | ۲۹،۷۸۰<br>مصنوعي غړي تولید شوي |
| ۳،۱۴۰<br>ویلچییر وېشل شوي | ۲۳،۶۳۹<br>د ګرځېدو کومکي وسایل وېشل شوي | ۳۴۸،۸۲۰<br>د ورځني ژوند کومکي توکي وېشل شوي | ۳۲۵،۳۱۳<br>د فزیوتراپۍ جلسې شوي دي |

# په افغانستان کې د سره صليب د فزيکي بيارغونې پروګرام



# فیض آباد

## د فزیکي بیارغونې مرکز

جنوري - ډسمبر ۲۰۲۴

**۱۷،۸۹۹**
ناروغانو درملنه شوي

**۳۰۳**
مصنوعي پښې
تولید شوي

**۲،۱۱۲**
مصنوعي غړي
تولید شوي

**۱۳۴**
ویلچییر وېشل
شوي

**۱،۳۶۰**
د ګرځېدو کومکي
وسایل وېشل شوي

**۱۳،۳۴۷**
د ورځنۍ ژوند
کومکي توکي
وېشل شوي

**۵۰،۹۹۳**
د فزیوتراپۍ جلسې
شوېدي



### مهرناز

## هغه څېره چې له امیده ځلیږي!

د څو ورځو پرله پسې بارانونو وروسته، د مهرناز دوی په کور کې یو زوړ ختین دیوال د هغې په پښه راپرېوت، د هغې پښه د بیارغېدو نه وه او درد یې هم شدید وو، مګر زور ټپونه یې لا نه وو رابرسېره شوي. هغه مهال، مهرناز د معلولیت سره د ژوند کولو په مانا نه‌پوهېده. هغه پدې نه‌پوهېده، چې هغې نړۍ چې یو مهال د خوځښت، لوبو او شونتیاوو څخه ډکه وه – یو ناڅاپه بدله شوه.

هغې په دې وروستیو کې د بدخشان په فیض آباد کې د آی سي آر سي د فزیکي بیارغونې مرکز کې مصنوعي غړی ترلاسه کړ. نن ورځ د هغې ژوند بدل شوی او د لومړي ځل لپاره هغه کولی شي چې په خپلو پښو ودرېږي او تګ وکړي.

مهرناز اوس د نورو ماشومانو سره د منډې وهلو او لوبې کولو له‌پاره سترګې په لار ده. د هر ګام سره چې هغه یې اخلي، هغه د روښانه راتلونکي په لور مخ په وړاندې ځي.

حسنا ولیزاده، په فیض آباد کې د مصنوعي غړیو او ارتوز متخصصه وایي:«د مهرناز خندانه مخ لیدل موږ ته دا احساس راکوي، چې زموږ ټولې هڅې ارزښت لري.»

د مهرناز کیسه د امید یو نښه ده او دا همدارنګه چې څنګه فزیکي بیارغونه کولای شي د یو ماشوم ژوند بدل کړي.

**۱۴،۶۳۳**
ناروغ درملنه شوي

**۲۴۲**
مصنوعي پښې
توليد شوي

**۱،۴۹۱**
مصنوعي غړي
توليد شوي

**۱۷۱**
ويلچيير وېشل
شوي

**۱،۱۹۸**
د ګرځېدو کومکي
وسايل وېشل شوي

**۱۰،۴۲۹**
د ورځني ژوند کومکي
توکي وېشل شوي

**۲۰،۱۶۸**
د فزيوتراپۍ جلسې
شوي‌دي



### سودابه

## د ځواک او مقاومت يوه بېلګه:

په ۲۰۱۴ کې، د سودابې ژوند له يو ويجاړونکي بدلون سره هغه مهال مخ شو کله چې د سړک په يوه پېښه/چاودنه کې د هغې د ملا د رګ ژوبل شو او دې پېښې د هغې تنه او د پښو ښکتنۍ برخه فلج کړل. سودا به وايي: «همدا چې اوونۍ او مياشتې تېرې شوې، زما حالت لا پسې خرابېدو، د فشار له کبله زخمونه رامينځته شول او زما د بې حرکتۍ او مخ په زياتيدونکي نا اميدۍ درد لا زور اخيسته. د هرې ورځې په تېرېدو سره زما د انزوا او ضايع کېدا حس ژورېده. ما داسې حس کوله لکه زه چې د بېوسۍ په يوه دوره نښتې يم».

هغه د کاپيسا په ګلبهار کې د آی سي آر سي د فزيکي بيارغونې مرکز ته لاړه او د بيا ودريدو او تګ لپاره يې يو سخت ورځنی مهالوېش تعقيب کړ. مګر بېرته په خپلو پښو تګ کول د هغې د دې سفر يوازينۍ موخه وه. سودابه هم د آی سي آر سي د «ټولنيزې يوځای کېدنې پروګرام» سره يو ځای شوه، او د پنځه کالونو په موده کې يې په کور دننه له زده کړو وروسته ليسه پای ته ورسوله. خلکو ته د خدمت کولو لپاره د هغې ليوالتيا هغه اړکړه چې د روغتيا پاملرنې مسلک ته راوګرځي.

نن ورځ، سودابا په يوه دولتي روغتون کې د استقبال کوونکې په توګه کار کوي او د نورو د ملاتړ لپاره له خپلو تجربو او ځواک څخه کار اخلي.

# هرات

## د فزيکي بيارغونې مرکز

**جنوري - ډسمبر ۲۰۲۴**

**۴۶،۵۵۶**
ناروغ درملنه شوي

**۵۲۰**
مصنوعي پښې تولید شوي

**۶،۴۹۶**
مصنوعي غړي تولید شوي

**۳۰۰**
ویلچییر وېشل شوي

**۷،۳۳۹**
د ګرځېدو کومکي وسایل وېشل شوي

**۴۲،۲۷۹**
د ورځني ژوند کومکي توکي وېشل شوي

**۵۵،۵۵۰**
د فزیوتراپۍ جلسې شوي‌دي



### تمیم

## هوډ او نوی پیل

۱۴ کلن تمیم د زیږون پر مهال له فزيکي معلولیت سره دې نړۍ ته راغلی‌وو چې د هغه دواړه پښې یې خرابې/غیرې منظمې کړې‌وې. د هغه دا حالت د لوییدو سره نور هم خراب شو، یوه پښه یې د بلې په پرتله د ۱۱ سانتي مترو په اندازه لنډه وه چې حرکت یې ورته ډېر ستونزمن کړی‌وو.

تمیم وایي: «په ۲۰۱۷ کال کې زما کورنۍ په هرات کې د آی سي آر سي د فزيکي بیارغونې مرکز څخه مرسته وغوښته. ما ته زما د چپې پښې لپاره یو ډیزاین شوی اورتُزس راکړل شو، چې زما د پښو اوږدوالی او توپیري نبمګړتیا یې سمه کړ. دا ما لپاره یوازې د کومکي تجهیزاتو یوه ټوټه نه‌وه بلکې د ژوند یوه کرښه وه». هغه اوس ښه ګرځیدلی شو او هغه خپلواکي چې د هغه لپاره ډېره لرې ښکاریده، اوس سملاسي د هغه په لاس کې وه.

د مرکز د کارمندانو له لوري هڅول شوی تمیم د انګلیسي ژبې په کورس کې هم شامل شو تر څو خپل مهارتونه لوړ کړي. د لومړي ټولګي له پای ته رسولو وروسته، هغه په مستقیم ډول دریم ټولګي ته ارتقا وکړه او اوس د پنځم ټولګي یو ویاړلی زده کونکی دی.

د تمیم سفر ښيئ چې د سم ملاتړ او نه ماتیدونکي هوډ سره، خلک کولی شي هر څنډ له منځه یوسي. هغه اوس د ډېرو فرصتونو او بریالیتوبونو په لور روان دی.

# جلال آباد

## د فزيکي بيارغونې مرکز

جنوري - ډسمبر ۲۰۲۴

**۱۲،۲۲۴**
ناروغ درملنه شوي

**۸۵۶**
مصنوعي پښې
توليد شوي

**۵۸۰**
مصنوعي غړي
توليد شوي

**۲۷۵**
ويلچيير وېشل
شوي

**۸۸۲**
د گرځېدو کومکي
وسايل وېشل شوي

**۳۷،۶۶۶**
د ورځني ژوند کومکي
توکي وېشل شوي

**۱۰،۵۱۹**
د فزيوتراپۍ جلسې
شوې‌دي



### عطا الرحمن شينواری

## له مبارزې تر برياليتوب

د ماشومتوبه له پوليو سره ژوند کولو سره عطا الرحمن شينواری د ژوند په اوږدو کې له مختلفو ننگونو سره بلد کړی‌وو. خو د تگ– راتگ لپاره پر ويلچير تکيه کولو باندې هغه د خپل ژوند د ښه کولو لپاره د سخت کار کولو څخه نه‌دی منع کړی. هغه په خپل ښار کې د آی سي آر سي د فزيکي بيارغونې مرکز څخه مرسته وغوښته او د پوهنتون فيسونو او ترانسپورت لگښتونو د پوره کولو لپاره يې د آی سي آر سي ملاتړ ترلاسه کړ. دې ملاتړ هغه ته د کمپيوټر ساينس په برخه کې د ليسانس سند د ترلاسه کولو توان ورکړ.

وروسته، عطا الرحمن «د معلوليت لرونکو وگړيو لپاره د آی سي آر سي د مسلکي روزنې پروگرام» له لارې د موبايلونو د ترميم په برخه کې د زده کړې دوره بشپړه کړه. هغه د خپل مهارت څخه په گټې اخيستنې خپل ورکشاپ جوړ کړ. عطا الرحمن د آی سي آر سي څخه پور هم ترلاسه کړ ترڅو يو دوامداره کاروبار رامنځته کړي او د خپلې کورنۍ مالي ملاتړ وکړي.

هغه وايي: «له آی سي آر سي څخه مننه، زه نور د يوازېتوب احساس نه کوم، ما پر خپلو ننگونو  د غالبېدو لپاره مرسته ترلاسه کړه او اوس زه په خپله لاره پياوړی ولاړ يم».

# لښکرګاه

## د فزيکي بيارغونې مرکز

جنوري - ډسمبر ۲۰۲۴

| | |
|---|---|
| ۳۹۳ مصنوعي پښې تولید شوې | ۱۹،۱۸۹ ناروغانو درملنه شوې |
| ۱،۴۲۵ مصنوعي غړي تولید شوي | |
| ۲،۷۶۳ د ګرځېدو کومکي وسايل وېشل شوي | ۴۱۸ ویلچیير وېشل شوي |
| ۲۰،۷۶۶ د فزیوتراپۍ جلسې شوېدي | ۳۸،۶۸۰ د ورځنۍ ژوند کومکي توکي وېشل شوي |



### عبدالله

## له غمیزې څخه تر بریا

۴۲ کلن عبدالله د هلمند ولایت په سنګین ولسوالۍ کې د خپلې کورنۍ د نهو ماشومانو سره ژوند کوي. په ۲۰۱۰ کال کې، کله چې هغه په خپل فارم کې کار کاوه، ناڅاپه یوې زوروري چاودنې هر څه ګډوډ کړل او هغه یې بې هوښه کړ.

کله چې عبدالله بېرته په هوښ راغی، هغه په روغتون کې وو او له یو ویجاړونکي حقیقت سره مخ وو چې د هغه دواړه پښې باید پرې شوې وای ــ یوه د زنګون څخه پورته او بله د زنګون څخه لاندې. هغه په هلمند او کابل کې د یوې میاشتې درملنې وروسته کور ته راستون شو، هغه په جسمي او روحي توګه مات وو ځکه چې د هغه ژوند یوازې په یوه شیبه کې د تل لپاره بدل شوی وو.

هغه د تګ توان نه‌درلود او یوازې په‌خپلې ځوکۍ پورې محدود وو، هغه د بېوسۍ احساس کاوه. هغه وايي: «ما فکر کاوه چې زه به څنګه د خپلې کورنۍ لپاره کار وکړم او څنګه به مې ژوند بېرته عادي حالت ته راشي.»

عبدالله هغه مهال د امېد یو څراغ ولید کله چې د هغه ملګرو هغه ته سپارښتنه وکړه چې په لښکرګاه کې د آی سي آر سي د فزیکي بیارغونې مرکز ته لاړ شي. هغه هلته ولاړ او خپل لومړنی ویلچیر او دوه مصنوعي پښې یې هم ترلاسه کړې. هغه چې په نویو غړو سمبال وو، خپلو کروندو ته راستون شو ترڅو د خپلو ماشومانو لپاره کار وکړي او خپل ژوند بیا جوړ کړي، هر ګام د هغه لپاره بریا وه.

له هغه مهمې شیبې راهیسې، عبدالله د آی سي آر سي د دوامداره ملاتړ له لارې د مصنوعي غړو اته سیټونه ترلاسه کړي دي. هغه وايي: «ما فکر کاوه چې زه به هیڅکله د بیا ګرځېدو جوګه نه شه په کروندو کې کارکول خو لرې خبره وه، خو آی سي آر سي ماته زما ژوند بېرته راکړ.»

# مزارشریف

## د فزیکي بیارغونې مرکز

جنوري - ډسمبر ۲۰۲۴



۳۴،۸۷۷
ناروغانو درملنه شوي

۸۱۲
مصنوعي پښې
تولید شوي

۵،۶۴۴
مصنوعي غړي
تولید شوي

۵۶۰
ویلچییر وېشل
شوي

۴،۶۲۵
د ګرځېدو کومکي
وسایل وېشل شوي

۵۲،۴۱۴
د ورځنۍ ژوند
کومکي توکي
وېشل شوي

۸۱،۴۳۵
د فزیوتراپۍ جلسې
شوې‌دي

**حمیده**

## د نورو د پیاوړتیا لپاره پر ستونزو برلاسي کېدل

حمیده په مزار شریف کې ژوند کوي، چیرې چې د آی سي آر سي د فزیکي بیارغونې مرکز له ۱۹۹۰ز کال راهیسې د معلولیت لرونکو وګړیو ملاتړ کوي.

حمیده په ماشومتوب کې له پولیو څخه اغېزمنه شوې، هغه اوس د معلولیت سره ژوند کوي. د هغې لپاره تګ ستونزمن دی، که څه هم په مرکز کې چمتو شوي مصنوعي غړي د هغې حرکت اسانه کړی‌دی. حمیده په یوازې ځان د خپلو ماشومانو د لویولو مسؤلیت هم پر غاړه لري.

که څه هم ژوند د یوې سختې جګړې په څېر احساس ورکاوه، خو حمیدې دې ناامېدۍ ته انکار وکړ او اجازه یې ورنه‌کړه چې نا امیدي د هغې راتلونکې تعریف کړي. هغه په مزار شریف کې د ټولنیزې بیارغونې څانګې ته معرفي شوه، هغې د یو کلن خیاطۍ کورس کې نوم لیکنه وکړه او د عاید ترلاسه کولو او د خپلو ماشومانو د پاملرنې لپاره یې د خیاطۍ دوکان پرانیست.

څرنګه چې د هغه کاروبار وده وکړه، نو د هغې دوکان ډېر ژر د ځواکمنتیا په عامل بدل شو او په تېرو دوو کلونو کې حمیدې په خپل دوکان کې نورې معلولې میرمنې هم وګمارلې، هغه خپل مهارتونه شریکوي او هغوی ته د جامو ګنډلو درس ورکوي.

د هغې دا سفر یوه روښانه بېلګه ده چې څنګه هوډ، شوق او ملاتړ کولای شي انسان پر سترو ننګونو برلاسی کړي.

# کابل

## د فزیکي بیارغونې مرکز

جنوري - ډسمبر ۲۰۲۴

**۶۹،۸۹۶** ناروغ درملنه شوي

**۱،۱۲۷** مصنوعي پښې تولید شوي

**۱۲،۰۳۲** مصنوعي غړي تولید شوي

**۱،۲۸۲** ویلچییر وېشل شوي

**۵،۴۷۲** د ګرځېدو کومکي وسایل وېشل شوي

**۱۵۴،۰۰۵** د ورځني ژوند کومکي توکي وېشل شوي

**۸۵،۸۸۲** د فزیوتراپۍ جلسې شوي‌دي



### ګل وزیر او فاطمه

## د پلار مینه او د لور مبارزه

د افغانستان د ختیځ په یوه کوچني کلي کې، د ګل وزیر ژوند د خپلې لور، فاطمې باندې راڅرخېدلی وو. فاطمه یوازې اته میاشتې وه چې پلار یې ورته متوجه شو، چې لور یې د حرکت کولو لپاره هلې ځلې کوي. فاطمه د دماغي فالج (CP) څخه رنځ وړي، دا داسې یوه ناروغي ده چې د عضلاتو کنټرول او همغږي اغېزمنه کوي.

ګل وزیر هوډمن وو چې له لور سره د تګ او ښه ژوند کولو په برخه کې مرسته وکړي، په همدې پار یې په نه ستړي کېدونکي ډول د یوې مناسبې درملنې لټه پیل کړه. څو میاشتې وروسته، هغه په کابل کې د آی سي آر سي د فزیکي بیارغونې مرکز ته مراجعه وکړه، دا مرکز د دوی له استوګنځي څخه څلور ساعته لرې دی. هغه وایي: «زه باید له هغې سره د مرستې لپاره یوه لاره ومومم، سمه ده چې زه نشم کولی له هېواده بېرون یې درملنه وکړم، خو زه د هغې درملنه هم نه‌شم پرېښودای.»

په مرکز کې، فاطمې د فزیکي درملنې په شمول د بیارغونې خدمات ترلاسه کول پیل کړل‌ه هغه خدمت چې په ځانګړي ډول د دماغي فالج سره د ماشومانو لپاره ډیزاین شوي. د فاطمې پرمختګ، که څه هم تدریجي دی، خو ګل وزیر ورته ډېر خوښ برېښي. هغه وایي: «د لور ښه کېدل مې ما لپاره تر ټولو غوره کار دی چې زه یې ګورم.»

په ټول افغانستان کې ډېرى نور ماشومان د فاطمې په څېر کیسې لري. دا مهال په ټول هیواد کې د آی سي آرسي په اووه فزیکي بیارغونې مرکزونو کې د دماغي فلج له ۲۶،۸۹۰ څخه ډېرو ناروغانو درملنه کېږي چې وړیا او جامع درملنې خدمات ترلاسه کوي.

# سپورت

## د فزيکي بيارغونې مرکز

د آی سي آر سي د فزيکي بيارغونې پروګرام په ټول هېواد کې څلور جمنازيمونه او دوه خلاص ميدانونه اداره کوي چيرې چې معلول لوبغاړي کولی شي تمرينات ترسره کړي لکه د ويلچير باسکيټبال، فوټسال او واليبال. سپورت د فزيکي بيارغونې او ټولنيز شموليت په برخه کې يو بشپړ ترکيب دی. د ساتيرۍ سره يوځای، دا د لوبغاړو فزيکي هوساينه او د دوی پر ځان باور لوړوي.

**محمدالله احمدي**

## د چاودنې يو قرباني چې د ملي ټيم کپتان شو

محمدالله احمدي ۱۴ کلن وو چې په کابل کې د خپل پلار د دوکان څخه بېرون د يوې بمي چاودنې له کبله په ملا فلج شو. هغه د آی سي آر سي د فزيکي بيارغونې مرکز په مرسته خپله درملنه پيل کړه، هغه نه يوازې فزيکي پاملرنه ترلاسه کړه بلکه د خپل ژوند د بيارغونې لپاره يې هيله او وسايل هم ترلاسه کړل.

په ۲۰۱۰ کې، هغه د ويلچير باسکيټبال شوق وکړ، هغه ډېر ژر د يو لوبغاړي او بيا د روزونکي په توګه ارتقا وکړه، په پای کې د افغانستان د ويلچير باسکيټبال ملي ټيم کپتان شو. هغه په وياړ سره په چين، اندونيزيا، ايټاليا، لبنان او تايلينډ کې په نړيوالو سياليو کې د خپل هيواد استازيتوب وکړ، او همدارنګه په ډيرو نورو ملي پروګرامونو کې يې ګډون وکړ.

نن ورځ، دغه ۴۶ کلن ځوان د ټولنيز ادغام او د سپورت په ډګر کې د ځواک يوه بنه بېلګه ده، هغه وايي: «زه اوس له خپل ژوند څخه خوښ يم.»

په سپورت کې بوختيدل د معلوليت لرونکو خلکو سره مرسته کوي چې خپل شته ظرفيت او وړتيا تجربه کړي او همدارنګه دې ظرفتې ته څنګه د تمرين له لارې وده ورکړي. سپورت په دوی کې هيلې بيا زېږوي او د دوی د ژوندانه اراده بيا رغوي.

## په ۲۰۲۴ز کې سپورت او ټولنيز-اقتصادي شموليت فعاليتونه

د معلوليت سپورټ پروګرام کې د انفرادي ګډون کونکو شمير **۹۸۵**

د مسلکي روزنې پروګرام کې **۳۶۳** ناروغان شامل دي

**۱۶۱۶** معلوليت لرونکي کسان کوچني پور ترلاسه کوي

**۳۱۷** کور ته تلونکي شديد معلوليت لرونکي ماشومان د کور له زده کړې څخه ګټه پورته کوي

**۱۹۳۷** معلوليت لرونکي ځوان زده کونکو د ښوونځي سټيشنري او د مختلفو کورسونو فيسونه ترلاسه کړي

**۸۷** معلوليت لرونکي زده کونکو د پوهنتون سکالرشپ ترلاسه کړی

**۹** معلوليت لرونکي زده کونکو ښوونځي، کورسونو او پوهنتون ته د ترانسپورت منظم کرايه ترلاسه کړې

**۳۷** معلوليت لرونکي کسان په کارګمارل شوي دي



# ټولنيز-اقتصادي ګډون

## د فزيکي بيارغونې مرکز

د وسله والې شخړې يا تاوترېخوالي په پايله کې د اغېزمن شويو معلوليت لرونکيو وګړو د ټولنيز–اقتصادي ګډون په درک سره، آی سي آر سي  دوی ته د تعليم، کاري بوختياو، له سود پرته کوچني پورونه، مسلکي روزنې او سپورتونو ته لاسرسی چمتو کوي.



### محفوظه

### د ژوندانه د کولو مبارزه

محفوظه په افغانستان کې د هغو مېليونونو خلکو په ډله کې يوه ده چې بشري مرستو ته ژغنته اړتيا لري. د لسيزو وسله والو شخړو، طبيعي پېښو او اقتصادي ننګونو په ټول هيواد کې بېوزلي زياته کړې‌ده ځکه چې خلک د ژوندانه د کولو لپاره د لارې موندلو لپاره مبارزه کوي. د هغو کسانو په منځ کې چې تر ټولو ډېر له دې حالاتو اغېزمن شوي ماشومان، عمر خوړلي او معلوليت لرونکي وګړي دي.

محفوظه، يوه معلوله مېرمن او دوه اولادونو مور ده چې په فيض اباد کې اوسېږي، هغې له خورا ډېرې مودې وروسته د پيسو  يو نوټ وليد. هغه چې له خورا بېوزلۍ سره مخ ده، د ژوندانه د کولو لپاره هېڅ وسيله نه‌لري، هغه وايي، چې نه خو د خوړلو لپاره کافي توکي شته او د اغوستلو لپاره کافي جامې. محفوظه وايي، چې ګاونډيان يې ماشومانو ته کارېدلې جامې ورکوي او د دې اولادونه بيا په خپل منځ کې هغه مستعمل کالي شريکوي، يو ماشوم يې کمېس اغوندې او بل يې پطلون.

د دا ډول اقتصادي ستونزو په ځواب کې، آی سي آر سي هغو معلوليت لرونکو خلکو ته مالي ملاتړ چمتو کوي چې د خپلو کورنيو لپاره يوازيني ډوډۍ ګټونکي دي مګر د ژوند کولو لپاره هيڅ وسيله نلري. په ۲۰۲۴ کال کې، ۶۴۸۳ معلوليت لرونکو کسانو (۵۱۴۱ نارينه او ۱۳۴۲ ښځينه) د آی سي آر سي «د خونديتوب شبکې پروګرام» لاندې نغدي مرسته ترلاسه کړه ترڅو د دوی اساسي اړتياوې پوره کړي.

**د لا نورو معلوماتو لپاره:**
kabul@icrc.org


**د سره صليب نړيواله کمېټه**
مرکزي نمايندګی، کابل
۱۵ سړک، لومړی کوڅه، وزير اکبرخان
کابل افغانستان
اړيکه: ۰۰۹۳۷۹۹۵۵۰۰۵۵
برښنا ليک: kabul@icrc.org
www.icrc.org


© ICRC, May 2025


زموږ
ويب‌پاڼه:

زموږ
فيسبوک‌پاڼه:

زموږ
اېکس پته:

ICRC


6000/05.2025
Cover photo: ICRC